# د لمانځه شرطونه

## رکنونه او واجبات

شروط الصلاة وأركانها وواجباتها
(پښتو)


ليکنه:
شيخ الاسلام؛ مجدد امام شيخ
محمد بن عبد الوهاب
-رحمه الله-

ح

**جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٥ هـ**

التميمي ، محمد
شروط الصلاة وأركانها وواجباتها - بشتو. / محمد التميمي ؛
جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات - ط.١ -. الرياض ، ١٤٤٥هـ

٣٤ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

ردمك: ٠-٣٤-٨٤٤٢-٦٠٣-٩٧٨

١٤٤٥ / ١٨٢٠١

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام    جمعية الربوة    رواد الترجمة    المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع
الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Tel: +966 50 244 7000
info@islamiccontent.org
Riyadh 13245- 2836
www.islamhouse.com

**د لمانځه شرطونه، رکنونه او واجبات**

د شيخ الاسلام؛ مجدد امام شيخ محمد بن عبد الوهاب - رحمه الله- ليکنه.

۱۱۱۵ -۱۲۰٦ هـ

د کتاب څېړنه، هغه ته پاملرنه او د هغه د احاديثو تخريج، الله تعالی ته د اړ ډاکټر سعيد بن علي بن وهف القحطاني له لوري شوي دي.

دکتور سعيد بن علي بن وهف القحطاني

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام
جمعية الربوة
رواد الترجمة
المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

بسم الله الرحمن الرحيم؛ د الله په نوم سره ( پیل کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی.

## د څېړونکي سريزه

**إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلَّ له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلاَّ الله وحده لا شريك له، وأشهد أنّ محمداً عبدُه ورسوله، صلّى الله عليه، وعلى آله، وأصحابه، وسلّم تسليماً كثيراً، أما بعد:**

پرته له شکه د امام محمد بن عبد الوهاب **"شروط الصلاة وأركانها وواجباتها "** نومې کتاب له ګټورو کتابونو څخه دی په ځانګړي ډول د ابتدايي زده کوونکو او عامو خلکو لپاره، بلکې الله پرې خاصو او عامو ته ګټه رسولې

ده، لکه څنګه چې الله پاك د ځمکې په ټولو برخو کې د هغه پر ټولو کتابونو ګټه رسولې ده، او دا پر هغه او خلکو د الله پېرزوینه ده.

او زموږ شیخ ښاغلي امام عبدالعزیز بن عبدالله بن باز - رحمه الله - دغه مبارك کتاب د خپل کور تر څنګ جومات کې شرحه کړې دی، شاوخوا ۱۴۱۰ هـ کې یې د خپل جومات له امام شیخ محمد الیاس عبدالقادر څخه ویلی دی، ښاغلي شیخ د ماخوستن د لمانځه د اذان او اقامت ترمنځ په پنځو ورځو کې په پنځو ناستو کې لمونځ کوونکو ته په ځانګړې څېړنیزه، لنډه، ګټوره او مفیده توګه شرحه کړ، او د دغو پنځو درسونو ټولټال موده په یوه فیته کې نوي دقیقې وه، او زما سره شاوخوا پنځه ویشت کاله د ۱۴۳۵ هـ کال د محرم تر میاشتې پورې و، بیا الله د هغې فیتې لیکلې بڼه آسانه کړه.

او زما کار په لاندې ډول و.

١ - د شيخ - رحمه الله- ثبت شوی غږېز مې د ليکل شوي متن او شرحې سره ټکی په ټکی د الله په لورېينه پرتله کولو.

٢ - د نومورې کتاب متن مې له څلورو نسخو سره پرتله کولو: د لوستونکي پر هغه نسخه چې له شيخ څخه يې لوستله لکه څنګه چې هغه لوستله او شيخ اورېدله او هغه مې اصل وګرځوله، او په لاس ليکل شوو دوو نسخو: لومړۍ نسخه: بشپړه په ښکلي او څرکند خط د ابراهيم بن محمد الضويان په لاس په ٦/٥/١٣٠٧ هـ نېټه ليکل شوې وه، او دغه نسخه د ميکرو فيلم په ٥٢٥٨ شمېره د فيصل پاچا د څېړنو او اسلامي درسونو په مرکز کې خوندي ده، او د مخطوطې اصل د قصيم ښار د عنيزة جامع مسجد په کتابتون کې دی. او دغه نسخه د هغو مخطوطو د ټولګې په ضمن کې ده: چې هغه ثلاثة

الأصول، والقواعد الأربع، او كتاب كشف الشبهات دي او هغه ټول د ليكوال رحمه الله دي. او دويمه په لاس ليكل شوې نسخه د فيصل پاچا په مركز كې په ٥٢٦٥ شمېره ميكروفيلم سره خوندي ده، د دغې مخطوطې اصل ځاى د قصيم ښار د پوهنتون كتابخونه دى، او دا د هغو مخطوطو په ټولګه كې ده چې هغه: ثلاثة الأصول، أربع قواعد، كتاب التوحيد او آداب المشي للصلاة دي او هغه ټولې د ليكوال رحمه الله دي. او له هغو سره همدارنګه د شيخ الاسلام ابن تيميه - رحمه الله - د العقيدة الواسطية مخطوطه هم ده. او دغه درېيمه نسخه په ١٣٣٨هـ كال كې ليكل شوې او ليكونكي يې خپل نوم نه دى پرې ليكلى، او هغه هم په ښكلي او څرګند خط ليكل شوې، خو لږ غوندې سوروى دى پكې د ليكوال له دغه وينا څخه «والدليل قوله تعالى: «ومن يبتغ غير الإسلام ديناً فلن ...بيا تر قوله: عليه وسلم في الوقتين...

پورې. او دغه نسخه مې له نورو نسخو سره وکتله، او ځلورمه نسخه: د امام محمد بن سعود د اسلامي پوهنتون چاپ ده چې تصحيح او په لاس ليکل شوې نسخې ۲۶۹/ ۸۶ سره پرتله یې: شيخ عبدالعزيز بن زيد الرومي او شيخ صالح بن محمد الحسن کړې ده.

۳-او د نسخو ترمنځ توپير مې په حاشيو کې څرګند کړی دی.

۴-د آيتونو نسبت مې د هغو سورتونو ته کړی دی.

۵-د ټولو آحاديثو او آثارو تخريج مې کړی دی.

۶-د آيتونو، آحاديثو او آثارو لپاره مې سرليکونه ورکړي دي.

۷-د شرحې نوم مې (الشرح الممتاز لسماحة الشيخ الامام ابن باز) يعنې: (د شيخ امام ابن باز ځانګړې شرحه) سره کېښود، او کله مې چې ځانګړې وړاندې ياده شرحه پای ته ورسوله او چاپ شوه، ومې غوښتل چې د (شروط

الصلاة، و أركانها، وواجبتها) نومي کتاب په بېل کتابي بڼه کې ولیکم، په ټول هغه کوښښ سره چې په ځانګړې شرحه کې یې ترسره کړی دی، هیله ده چې الله جل جلاله به ګټه پرې ورسوي. او دا چې له شرحې څخه یې بېلوالی د یاد لپاره آسانه شي، په ځانګړي ډول د ابتدایي زده کوونکو او نورو لپاره، او څوك چې یادې ځانګړې شرحې ته د رجوع لېوالتیا لري؛ نو رجوع به ورته کوي.

او الله تعالی څخه غوړام چې دغه کار یوازې د خپلې رضا لپاره وګرځوي، لیکوال محمد بن عبدالوهاب رحمه الله او زموږ شیخ شارح ابن باز رحمه الله ته پرې ګټه ورسوي او دا چې د هغوی دواړو لپاره یې ګټوره پوهه وګرځوي، ماته مې په ژوند کې او له مرګ وروسته ګټه پرې ورسوي او هغه چاته چې لولي یې، پرته له شکه الله پاك غوره هغه څوك دی چې غوښتنه ترې کیږي، او تر ټولو زیات د هیلې پوره کوونکی دی، او هغه موږ لره

بسنه کوي او کار جوړوونکی دی، او هیڅ چاره او ځواک نشته مګر پر لوړ او لوی الله، او د الله درود، سلام او برکت دې زموږ پر نبي محمد صلی الله علیه وسلم، د هغه پر آل او د هغه پر ټولو صحابه و وي.

لیکنه: ابوعبدالرحمن

سعید بن علي بن وهف القحطاني

په ۲۵/۵/۱۴۳۵هـ د چهارشنبې په ورځ د ماسپښین له لمانځه وروسته ولیکل شو.

له لومړۍ نسخې څخه شپږم مخ په ۵۲۵۸ شمېره د فیصل پاچا په مرکز کې ده، او هغه د قصیم ښار د عنیزة جامع مسجد په کتابتون کې خوندي ده.

له دویمې نسخې څخه پنځم مخ په ۵۲٦٥ شمېره د فیصل پاچا په مرکز کې ده.

او هغه د قصیم ښار د عنیزة جامع مسجد په کتابتون کې خوندي ده.

ليکوال شيخ الاسلام مجدد امام؛ محمد بن عبدالوهاب رحمه الله وايي:

**بسم الله الرحمن الرحيم؛ د الله په نوم سره (پيل کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی.**

## د لمانځه شرطونه نهه دي:

اسلام، عقل، تميز، د بې اودسۍ نشتون، د پليتۍ لرې کول، د عورت پټول، د وخت داخلېدل، قبلې ته مخ کول او نيت.

**لومړی شرط:** اسلام چې ضد يې کفر دی، د کافر عمل د منلو نه دی که هر عمل وکړي دليل د الله تعالی وينا ده. د مشرکانو لپاره په کار نه ده چې جوماتونه آباد کړي په داسې حال کې چې هغوی پر ځانونو د کفر شاهدي ورکوونکي وي، همدوی دي چې کړنې به يې له منځه

تللې وي او تل به په دوزخ کې وي. او د الله تعالی وینا:
او هر څه عمل چې هغوی کړی وي مونږ به وروړاندې
شو او دوړه دوړه به یې والوځوو.

**دویم شرط:** عقل دی، ضد یې لېونتوب دی، له لېوني
څخه تر هغه قلم پورته کړل شوی چې پسد شوی نه وي،
پردې خبره دلیل دا حدیث دی: له دریو کسانو قلم پورته
کړل شوی دی: له ویده څخه ترڅو بیداره شوی نه وي،
له لېوني څخه ترڅو پسد شوی نه وي، له کوچني څخه
ترڅو بالغ شوی نه وي.

**دریيم:** تمیز دی چې ضد یې ماشومتوب دی، د
ماشومتوب اندازه اووه کلونه ده، چې بیا پر لمانځه د نبي
صلی الله علیه وسلم د وینا له مخې امر ورته کیږي.
اولادونو ته مو د لمانځه امر کوئ کله چې اووه کلن شي،
هغوی پر لمانځه وهئ کله چې لس کلن شي او د هغوی
ترمنځ په بسترو کې بېلوالی راولئ.

**څلورم شرط:** د بې اوداسۍ لرې کول، چې هغه مشهوره اودس او لامل يې بې اودسې ده.

او شرطونه يې لس دي: اسلام، عقل، تمييز، نيت، د نيت د حکم سره بايد دا وي چې د هغه د پرې کولو نيت ونه لري تر څو يې طهارت بشپړ کړى نه وي او د موجب انقطاع(چې هغه د حاجت رفع کول دي، يعنې تر هغه به نه پورته کيږي تر څو يې وړوکى او غټ حاجت په پوره توګه رفع شوى نه وي)، او له (اودس څخه ) مخکې استنجاء يا استجمار، د اوبو پاکوالى، د هغو مباح والى، او د هغه څه لېرې والى چې پوستکي ته د اوبو رسېدلو مخنيوى کوي، د وخت داخلېدل پر هغه چا چې بې اودسي يې دائمي وي د فرض لمانځه لپاره.

د اوداسه فرضونه بيا شپږ دي: د مخ مينځل، چې خولې او پوزې ته اوبه اچول هم پکې راځي، د مخ اندازه يې په اوږدو د سر د وېښتانو د شنه کېدو له ځايه بيا تر زنې

پورې، په پلنوالي بيا د غوږونو تر نرميو پورې، تر څنګلو پورې د لاسونو مينځل، د ټول سر مسح کول چې غوږونه هم پکې راځي، تر ښنګرو پورې د پښو مينځل، ترتيب او پرله پسې والی، پر دغو دليل د الله تعالی وينا ده. اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی، کله چې د لمانځه اراده وکړئ، نو مخونه او لاسونه مو ترڅنګلو ومينځئ، پر سرونو مو مسح وکړئ او تر ښنګرو مو پښې ومينځئ.

پر ترتيب دليل هغه حديث دی: پر هغه څه پيل وکړئ چې الله پيل پرې کړی دی.

د پرله پسې والي دليل د صاحب اللمعة حديث دی چې له نبي صلی الله عليه وسلم څخه روايت دی: چې کله هغه يو سړی په داسې حال کې وليده چې په پښه کې يې د يو درهم په اندازه ځای ته اوبه نه وې رسېدلې، نو د اوداسه راګرځولو امر يې ورته وکړ.

او د اوداسه واجبات بسم الله ويل سره له ذکره دي.

او د اداسه ماتوونکي آته دي: له دواړو لارو وتونکي شیان، او له بدنه د سختې پلیتۍ وتل، د عقل زوال، په شهوت پر ښځه لاس وهل، په لاس د فرج لمس کول هغه که د مخې برخه وي او که د شا، د اوښ د غوښو خوړل، مړي ته غسل ورکول، له اسلام اوښتل، الله مو دې له دغه وساتي.

**پنځم شرط:** له دریو شیانو د نجاست لیرې کول: له بدنه، جامو او ځای څخه، دلیل یې هغه د الله تعالی وینا ده: او جامې دې پاکې کړه.

**شپږم شرط:** د عورت پټول: ټول علماء په یوه خوله دي چې که څوک سره له دې چې د عورت پټولو توان لري او لوڅ لمونځ کوي لمونځ یې فاسد دی، د سړي عورت له نامه څخه تر زنګونه پورې دی، د مینځې هم همدارنګه دی، آزاده ښځه له مخ پرته نوره ټوله عورت ده، دلیل یې د الله تعالی وینا ده. ای د ادم اولاده! تاسو

خپل زينت (لباس) راواخلئ د هر لمانځه په وخت کې.
معنا دا چې د هر لمانځه پر مهال.

**اووم شرط:** د وخت داخلېدل، دليل يې له سنتو څخه دی، د جبريل عليه السلام حديث دی، چې هغه په لومړي او وروستي وخت کې د نبي صلى الله عليه وسلم د لمانځه امامت وکړ، بيا يې وويل: اې محمده! لمونځ د دغو دواړو وختونو ترمنځ دی.

او د الله تعالى وينا: پرته له شکه لمونځ پر مومنانو په ټاکلي وخت کې فرض کړل شوی دی. معنا دا چې: په خپلو وختونو کې فرض کړل شوی دی او د وختونو دليل يې د الله تعالى وينا ده: لمونځ کوه د لمر له زواله د شپې تر تربږمې پورې او د سهار قرائت هم کوه، بېشکه د سهار د قرائت شاهدي ويل کيږي.

**اتم شرط:** قبلې ته مخ کول، د هغه دليل د الله تعالى وينا ده: پرته له شکه آسمان لور ته دې بيا بيا مخ اړول وينو،

نو هغې قبلې ته به دې وګرځوو چې خوښوې يې، نو مخ دې د مسجد حرام لوري ته وګرځوه، او هر چېرې چې وئ مخونه مو د هغه لوري ته وګرځوئ.

**نهم شرط:** نيت دی، ځای يې زړه دی، په خوله ويل يې بدعت دي، دليل يې حديث دی: پرته له شکه د اعمالو تړاو تر نيتونو پورې دی او د هر چا لپاره به هغه څه وي چې نيت يې کړی وي.

## او د لمانځه رکنونه څوارلس دي:

د توان په صورت کې ولاړه، د پیل تکبیر، د فاتحې لوستل، رکوع، له رکوع پورته کېدل، پر اوو غړو سجده کول، له سجدې وروسته اعتدال، د دواړو سجدو ترمنځ ناسته، د ټولو رکنونو ترمنځ آرامتیا، ترتیب، وروستی تشهد، د هغې لپاره ناسته، پر نبي صلی الله علیه وسلم درود او دوه سلامونه ګرځول.

**لومړی رکن:** د توان په صورت کې ولاړه، دلیل یې د الله تعالی وینا ده. د لمونځونو ساتنه وکړئ او منځنی لمونځ او د الله لپاره عاجزي کوونکي ودرېږئ.

**دویم:** د تحریم تکبیر دی، د هغه دلیل دی: په لمانځه کې حراموونکی تکبیر دی او حلالوونکی سلام ګرځول دي. او له هغه وروسته بیا سبحانك اللهم ویل دي چې هغه سنت دي چې هغه عبارت ده له. "«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، .وَلاَ إِلَهَ

**غَيْرُك**" او د سبحانك اللهم معنا ده: داسې پاکي دې بيانوم چې ستا له لويۍ سره ښايي. ستا ستاينه ده. نوم دې مبارك دی معنا دا چې ستا په يادولو برکت را نازليږي. ستا لويي لوړه ده. او له تا پرته په ځمکه او آسمان کې په حقه بل د عبادت وړ نشته اې الله.

پر الله له رټل شوي شيطان څخه پناه غواړم. په دويمه لاس ليکل شوې نسخه کې دي: پر الله له رټل شوي، شړل شوي او د الله له رحمت څخه لېرې کړل شوي شيطان څخه پناه غواړم.

د فاتحې سورت لوستل په هر رکعت کې رکن دی، لکه څنگه چې په حديث کې دي: د هغه چا لمونځ صحيح نه دی چې د فاتحه سورت ونه لولي او هغه ام القرآن ده.

پيل کوم د الله په نوم سره چې ډير زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی.

**الحمد لله ،** حمد ستاينه ، الف لام د استغراق لپاره دي ، معنا يې ده ټولې ستاينې ، او هغه ښايسته چې په هغو کې کوم کار نه وي کړل شوی ، د ښايست غونډې او دېته ورته وي ؛ نوڅنا پرې ويلو ته مدح ويل کيږي نه حمد .

**(رب العالمين)** رب هغه (٦١) معبود ته ويل کيږي چې پيداکوونکی ، روزي ورکوونکی(٦٢)، څښتن ، تصرف کوونکی او د ټول مخلوق په نعمتونو سره روزونکی وي .

العالمين ) له الله پرته نور ټول عالم دی ، او هغه د ټولو پالونکی دی .

**(الرحمن)** د ټولو مخلوقاتو لپاره عامه لورېينه ده .

**(الرحيم)** تر مؤمنانو پورې ځانګړې لورېينه ، دليل يې د الله تعالی وينا ده : هغه پر مؤمنانو لوروونکی دی .

**(مالك يوم الدين)** د جزا او حساب د ورځې ، په کومه ورځ چې هرچاته د خپل عمل بدله ورکول کيږي ، که ښه

و؛ نو ښه بدله، او که بد و؛ نو بده بدله، دليل يې د الله تعالى وينا ده. او تاته څه معلوم دي چې د بدلې ورځ څه ده؟ بيا څه درته معلوم دي چې د بدلې ورځ څه ده؟ په هغه ورځ چې هيڅوك د بل چا لپاره د هيڅ واك نه لري، او په هغه ورځ امر يوازې د الله په واك كې وي. له نبي صلى الله عليه وسلم څخه حديث دى: هوښيار هغه دى چې ځان يې وپېژندلو، د مرگ وروسته لپاره يې عمل وكړ، عاجزه هغه دى چې د خپل نفس د غوښتنو پيروي يې وكړه او تر الله پورې يې زياتې هيلې (پرته له عمله) تړلې وي.

**(اياك نعبد)** معنا دا چې له تا پرته بل څوك نه لمانځو، دا د بنده او خپل پالونكي ترمنځ يوتړون دى چې يوازې هغه به لمانځي.

**(و اياك نستعين)** دا هم د بنده او خپل پالونكي ترمنځ يو تړون دی چې له الله پرته به له بل هيچا مرسته نه غواړي.

**(اهدنا الصراط المستقيم)** معنا دا چې موږ ته وښيه، لارښوونه راته وكړه، قائم مو كړه، پر داسې لار ده چې د اسلام ده، چا ويلي: د رسول لار، چا ويلي: د قرآن لار، او ټولې خبرې سمې دي، ښغه لار هغه ده چې كوږوالی پكې نه وي.

(د هغو كسانو لار چې پېرزوينه دې پرې كړې ده) د پېرزوينه كړل شوو لار، دليل يې د الله تعالی وينا ده: او څوك چې د الله او رسول پيروي كوي، همدوی هغه كسان دي چې الله پېرزوينه پرې كړې ده له نبيانو، رېښتينو، شهيدانو او نېكانو څخه او دوی څومره ښه خلك دي په ملگرتيا كې.

**(غيرالمغضوب عليهم)** څخه يهود مراد دي چې سره له پوهې لرلو يې عمل نه پرې کولو، له الله څخه وغواړه چې د هغوی له لارې دې و ژغوري.

**(ولا الضالين)** څخه مراد نصارى دي، چې د ناپوهۍ او لار ورکۍ پر بنسټ د الله عبادت کوي، له الله څخه وغواړه چې د هغوی له لارې دې وساتي، د هغوی د لار ورکۍ دليل د الله تعالى وينا ده چې: ووايه: ايا د عملونو له پلوه ترټولو زيانمن در ونه ښايم. هغه کسان چې د دنيا په ژوند کې يې هڅه ترې ورکه ده او هغوی ګومان کوي چې هغوی ښه کار کوي. او له نبي صلى الله عليه وسلم څخه حديث دی: **تاسو به هرومرو ګام پر ګام له تاسو د مخکېنيو پيروي کوئ، آن تردې که هغوی د خادمۍ سوړې ته ننوځي، تاسو به هم ننوځئ؛ هغوی ووېل: اې د الله رسوله! يهود او نصارى يادوئ؟ هغه**

**وفرمایل: نور نو څوك دي.** بخاري او مسلم روایت کړی دی.

او دویم حدیث: **یهود په یو اویا ډلو ووېشل شول، او نصاری په دوه اویا ډلو ووېشل شول او دغه امت به په درې اویا ډلو وېشل کیږي، له یوې پرته نورې ټولې به په اور کې وي، موږ وویل: اې د الله رسوله! هغه کومه ډله ده؟ هغه وفرمایل: څوك چې پر هغه لار وي چې زما او زما د اصحابو ده.**

او رکوع، له رکوع بېرته پورته کېدل، پر اوو غړو سجده کول، اعتدال او د دواړو سجدو ترمنځ ناسته، دلیل یې د الله تعالی وینا ده: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی، رکوع او سجده وکړئ. او له نبي صلی الله علیه وسلم څخه حدیث دی: ماته امر شوی چې پر اوو غړو سجده وکړم. په ټولو افعالو کې اطمینان (آرامتیا)، د رکنونو ترمنځ ترتیب، دلیل یې هغه د تیز لمونځ کوونکي

له ابوهريره (رضي الله عنه) څخه روايت شوی حديث دی. **يوه ځل موږ له نبي صلی الله عليه وسلم سره ناست وو، چې يو سړی را ننوت، لمونځ يې وکړ، (بيا ولاړ شو) بيا يې پر نبي صلی الله عليه وسلم سلام وکړ، هغه ورته وويل: وګرځه لمونځ وکړه، ځکه تا لمونځ ونه کړ. دا يې درې ځلې وکړل، بيا يې وويل: پر هغه ذات قسم چې ته يې په حقه نبي رالېږلی يې، تردې ښه مې نه دی زده، نو را ويې ښيه، بيا نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې لمانځه ته پورته شوې، تکبير ووايه، بيا چې له قرآن څه درته آسانه وي هغه ولوله، بيا رکوع وکړه، تردې چې په رکوع کې ښه آرامه شې، بيا سر راپورته کړه، تردې چې په ولاړې ښه په اعتدال شې (برابر شې)، بيا سجده وکړه، تردې چې د سجدې په حالت کې آرامه شې، بيا سر راپورته**

**کړه، ترديِ چې په ناسته کې ښه آرامه شې، بيا دغه په ټول لمانځه کې دې همداسې وکړه.**

او وروستۍ تشهد يو فرض رکن دی، لکه څنګه چې د ابن مسعود (رضي الله عنه) په حديث کې دي هغه وايي:

**موږ به مخکې ترديِ چې تشهد فرض کړل شي ويل د الله له لوري سلامتيا دې د هغه پر بندګانو وي، پر جبريل، ميکائيل دې سلام وي، او نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: داسې مه واياست: چې د بنده ګانو له لوري دې پر الله سلام وي، ځکه الله په خپله سلام دی، خو داسې واياست: چې ټولې لويۍ الله لره دي، درودونه او پاکۍ دې وي پر تا اې نبي او د الله لورينه او برکتونه دې وي، پر موږ او نېکو بندګانو دې سلام وي، شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، او شاهدي ورکوم چې محمد د الله بنده او د هغه رسول دی.**

د «**التحيات**» معنا ده ټولې لويې او تعظيمونه يوازې الله لره دي، د ملکيت او استحقاق له پلوه، لکه سر ښکته کول، رکوع، سجده، بقاء، دوام، او ټول هغه څه چې د مخلوقاتو پالونکي تعظيم پرې کيږي، نو همغه د الله لپاره دي، چاچې له هغو يو څه بل چاته وګرځول هغه مشرک کافر دی، د «**الصلوات**» معنا ده: ټولې بلنې.

ويل کيږي پنځه لمونځونه، او پاکې الله لره دي: الله پاك دی، له ويناوو او کړنو يوازې پاکې قبلوي، پر تا دې سلام وي اې نبي او د الله رحمت او برکتونه دې وي درباندې، د نبي صلی الله عليه وسلم لپاره د سلامتيا، رحمت، برکت او هغه څه دعاء غواړي چې ورته غوښتل کيږي او له الله سره نه را بلل کيږي، پر موږ او نيکو بندګانو دې سلام وي، په ځان او هر نيك بنده چې په آسمان او ځمکه دی سلام وايې، سلام يوه دعاء ده، چې د نيکانو لپاره غوښتل کيږي او هغوی له الله سره نه رابلل

کيږي ، شاهدي ورکوم چې يوازې هغه د عبادت وړ دی ، هغه لره شريك نشته ، د يقين د شاهدۍ په ډول شاهدي ورکوې چې په ځمکه او آسمان کې له الله پرته بل څوك په حقه نه لمانځل کيږي ، او دا شاهدي ورکوې چې محمد د الله رسول دی ، دا چې هغه بنده دی عبادت نه ورته کيږي ، رسول دی درواغجن نه ګڼل کيږي ، بلکې پیروي يې کيږي او خبر يې منل کيږي ، الله د بندګۍ شرف ورکړی ، دليل يې د الله تعال وينا ده: مبارك دی هغه ذات چې فرقان يې پر خپل بنده را نازل کړ ، ترڅوهغه د ټولو مخلوقاتو لپاره وېروونکی وي . اې الله پر محمد درود ولېږه ، د محمد پر آل ، لکه څنګه چې دې پر ابراهيم او د ابراهيم پر آل لېږلی ، پرته له شکه ته ستايل شوی او لوی يې ، صلاة د الله لوري د خپل بنده په «المَلأِ الأَعْلَى» کې ستاينه وي لکه څنګه چې بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې له ابو العالية څخه حکايت

کړی وايي: صلاة د الله له لوري په «**المَلأِ الأَعْلىَ**» کې د خپل بنده ستاينه وي، چا ويلي: رحمت ترې مراد دی، خو سمه خبره لومړۍ ده، د پرېښتو له لوري استغفار وي او د انسانانو له لوري دعاء وي، او برکت واچوه، او له هغو وروسته د اقوالو او افعالو سنن دي.

## او واجبات یې آته دي:

د احرام له تکبير پرته نور ټول تکبيرونه، په رکوع کې د «سُبْحَانَ رَبِّيَ العَظِيمِ» ويل: د امام او منفرد لپاره «سَمِعَ الله لِمَنْ حِمدَهُ» ويل: د ټولو لپاره «رَبَنَا وَلَكَ الحَمْدُ لِلْكُلِّ» ويل: په سجده کې «سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى» ويل: د دواړو سجدو ترمنځ «رَبِّ اغْفِرْ لِي» ويل:،

لومړی تشهد او د هغه لپاره ناسته کول دا ټول واجبات دي.

نو له ارکانو که کوم يو په هېره يا لوی لاس پاتې شي، لمونځ يې په پرېښودلو باطليږي، له واجباتو که کوم يو په لوی لاس پاتې شي، په پرېښودلو يې لمونځ باطليږي، خو که په هېره و، بيا يې د سهوې سجده جبيره کوي. او الله ښه پوهيږي. او زمونږ پر سردار محمد، د هغه پر آل او صحابه و دې درود وي او ډېره ډېره سلامتيا.